بسم الله الرحمن الرحيم

د سعيدافغاني د سولې او تفاهم ، نشراتي ارګان

www. said-afghani.org

استقامت په ژوند کې او متانت په کارنوکې
د موفقيت راز دی . « سعيد افغاني »

آزاده ، بېلنيزه ، فرهنګي
او نشراتي ارګان



Dr. M. Said Said Afghani

د سعيد افغاني : آزاده ، بېلنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !





ليکوال : ډاکتر رحمت ربی « زيرکيار » خپلواک څېړونکی ـ امريکا


د نشر نېټه : ۲۲ اګست ۲۰۱۲ ميلادی

# پښتو، صفويان، او پښتون ذهن
# د «افحام او تفحيم» پښتا نه

Pashto, Safavids and Pashtun Mind
By: Dr. Rahmat R. Zirakyar, Independent Scholar, USA
August 21, 2012

**ډالــۍ :** دا ليکنه دوه پښتون-افغان علمي او ادبي شخصيتونو ته ډالۍ کوم : يو يي په هالند کي کميا پوه پوهاند خير محمّد ماموند دی او بل يي په کاناډا کي پښتو ليکوال او څېړونکی محمّد معصوم هوتک دی. دغه شان له ملي پښتون - افغان ليکوال حبيب الله غمخور نه هم ډېره مننه کوم چي د ټول افغانستان د پوهانو په درناوي پسې يې ملا تړلې ده، د درنو پوهانو له عزت نه خوند اخلي، او له دې لارې ځوان نسل د پوهانو په درناوي پوهوي.

## کابلی - پيښوری د خپلې ژبې په درناوي کې:

بچو شړلي مور، ژبـه پښتـو ده جنتي — ورځمه هر دوزخ ته چې د دې اواز راځي

( کابلی - پيښوری ) په پښتو مين پښتون افغان دی . په ښه شينواری دی او ما زيرکيار په جرمني کي د ۲۰۰۸ په نومبر کي د باچا خان فخـر افغان په سمينار کي ليدلی و. کابلي - پيښوري ماتـه خپلـه ګـټوره رسالـه راکـړه چې په دې سرليک يي خپره کړې وه : « د لـوست ـ لـيک بنستـونه». پورتنی شعـرد دغي رسالې په ځـتمځ چاپ شوی و.

## ننتوځ

کله ناکله داسې پوهان هم پيدا کيږي چې بې له فکره قضاوت ته تيارسی ولاړ وي او يو کتاب د ارزون لانـدې نيسي بـې له دې چې لوستلی يې وي. دغه ډول يو پوه افغان هيوادوال تير

کال زما په یو بریښنایـیز کتاب ( ژبه له بابا ادمه تر دې دمه، ۲۰۱۰زییز ) باندې خپله یوه کرښیزه بـډیـره (تبصره) یو چاته لیـږلې وه او ده بیا ماته هم د ایمیل له لارې راوتـوغـوله. دغه بـډیـره په دې دوه ټکو پیل شوې وه: «افحام او تفحیم» د ژبې یواځینۍ وظیفه ده او«بس». د جملې له متن نه زه داسې پوه شوم چې له «افحام او تفحیم» نه بـه یې مطلب افـهام او تـفهیم ( پوهاوی راپوهاوی) وي. ماورغبرګه کړه چې «افحام اوتفحیم» یواځې د پښتنو لپاره راغلی دی او که د نورو ژبو دویونکو لپاره هم څه ناڅه اتبار لـري؟
له هغه دمه تـر دې دمه مې ځان د دغـه عـالم د «افحام او تـفحیم» لـه کـړکیـچ نـه را څـنـډې تـه کړ. خو پـه سر کې مې دې پوښتـنې کلک ځای نیولی دی: پـښتون ولې عملاَ د خپلې ژبې له عزت ، پـرمختـیا او عـمـومي کیدلو نه ډاریـږي یا د « افحام او تـفحیم » د پردې شاته د نـورو کـونـډې څـټـي؟ لاندې به خپلې لنـډې کتنې او د درې پوهانو نظریې او معلومات دروپـیژنم چې اوس زما د پوښتنې د ځواب لپاره ګټور دي.

## زما یو څو کتنې

زه یوه پښتنه کورنی پیـژنم. میرمن او میـړه دواړه په پښتو غږیـږي. خو میر مین د خپلې لور سره په یوه ځاګړې ولایتي لهجه فارسي وایي. یوه ورځ مې دغه میرمن و پوښتله چې ولې د خپلې لور سره فارسي وایي؟ هغې په نوکې ستومانی سره داسې جواب راکړ: «زموږ کور د ...د ښار په شهرنو کې دی.» زه له دغه ګړبیدلي جواب نه داسې پوه شوم چې د د دغه ښار معتبر خلک په شهرنو کې استوګن دي او معتبر خلک فارسي وایي؟
وروسته له لسو کلونو مې په یوه میلمستیا کې یو عالـم دوست ولیـد. موږ دواړه څـنګ په څـنګ ناست وو اوپه پښتو غـږیدلو. د ه ته مخامخ یو بل فارسي ژبی افغان ورور ولاړ و او زموږ خبرو ته یې غوږ نیولی و. زما د دوست چې ورته پام شـو، سم د لاسه یې ورنه په فارسي پوښـتنه وکړه چې زموږ په پښتو خبرو پـوهیـږي؟ دغه ولاړ افغان زما د دوست نږدې دوست و. ما په پښتو کې خپلې وینا ته ادامه ورکړه، او د ولاړ افغان جواب مې وانـه ورید. هغه ډیر زر زموږ مجلس پریښود. که دغه فارسي ژبی افغان په پښتو نه پوهیدلای، زموږ پښتو خبرو ته به یې ولې غوږ نیولی وای؟ زما د تجربې له مخې، غیر پښتون افغانان چې په افغانستان کې یې دولسم (۱۲) ټولګې بشپړ کړی وي، په پښتو پـوهـیـږي یانې د پښتـو د ویـنـا یا لیکلي متن مطلب درک کولی شي، که څه هم په پښتو غـږیدا کې به لږ و ډیر مشکلات ولـري.
په تیره اونۍ کې راته دوه پښتون افغانانو د ایمیل له لارې د بیلا بیلو موضوع ګانو په اکله خبـر رالیـږلی و. هر یو خپل مطلب لومړی په فارسی کې او ورپسې یې عین مطلب په پښتو کې لیکلی و. نه پوهیـږم چې د دغه ډول لومړي والي او دوهم والي موخه او مشروعیت به څه وي؟
دوه ورځې وړاندې (۱۹ اګست ۲۰۱۲) مې په سهیلي کلیفورنیا کې د اورنج کونټي په سیمه کې د لومړي ځل لپاره د ښاغلي زرغون شینواري دروند او ملي پروګرام(ځیرې او خاطرې) په اریانا افغانستان ټلویژن کې ولیـد.
د محترم شینواري د سریزې وینا د پای سره جوخت، یو پښتون یوه جمله په پښتو وویله او ورپسې یې په فارسي کې « حرکت ملی خپلواک افغانستان » معرفي کـړ. پوه نـه شوم چې د یوه

سیاسي سازمان لپاره په دوه ژبو ترکیبـي نــوم به د ملت سـازۍ لپاره کومه ګـټه ولـري؟ په کابل پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په غټه کچه د ا فغانستان د سروالې او واسطه والې پټې د ځوانانو علمي کیـږدی وه. ما هلته درس په پښتو ژبه ورکاوه. خو د لکچر په وروستنیو ځلور پنځه دقیقو کې به مې د موضوع لنډ یـز پـه فارسي ورکاوه. ولې؟ دلیل یې دا و

چي يوې ايرانۍ پوهيدونکې چې په کابل کې د خپل هيواد د سفارت د يوه مامو لور وه زمانه هيله وکړه چې د هغې مشکلاتو ته پام وکړم. ارواښاد پوهاند فضل ربي پژواک راته وويل چې زه زيرکيار لومړی پښتون يم چې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې په پښتو ژبه درس ورکوم. هغه مهال پوهاند پژواک په دغه پوهنځي کې تر ټولو پخوانی استاد و.

يوه ورځ په امريکا کې يو ځوان پښتون زموږ په يوه غونډه کې وويل چې که څوک د پخواني پاچا مشرتوب مني، بايد فارسي ووايي ځکه چې پخوني پاچا فارسي ويله. يو مشر سړي ورته وويل چې د غونډې يو غړی نه پاچا دی او نه د پاچا په کورنۍ پورې تړلی دی چې حتما دې فارسي ووايي. ځوان غلی شو، خو زما فکرونو اخوا ديخوا تويونه وهل: په وينه د پښتون، خپلواک او ټولواک پاچا محمّد ظاهر شاه ژبه په پښتو نه ګرځي ! ما زيرکيار نږدې ۱۹ کلونه وړاندې په ۱۹۹۳ کې يو شعار ورکړی و چې « بې پښتو ارګ د پښتنو مرګ دی! »( ولولئ: زيرکيار، بې پښتو ارګ د پښتنو مرګ دی! « جلالت چپن » به د خپل پلار پوښتنې ته څه ډول ځواب ووايي؟! [۲ مې ۲۰۱۲، اينټرنيټ]). زما له دې ليکنې نه يو څو ورځې وروسته، د دوه افغان څيړونکو تر منځ بريښنا ييز بحث پيل شو چې د پخواني پاچا او د هغه د کورنۍ په پښتو راڅرخيده.

د ژبپوهنې د ډاکتر سيد خليل الله هاشميان معلومات زما د شعار د غښتلتيا لپاره ګټور دي. زما د شعار پيغام دا و چې د کابل په ارګ کې پښتو حرامه وه. ډاکتر هاشميان زما پيغام په درباري مثالونو کوټلی کړی دی. دغه مثالونه په حکومتي ميچن کې د پښتو د پرمختګ او عمومي کيدا لپاره د حتمي تولنيز اعتبار نشتوالی تشريحوي.

## د ژبپوهنې ډاکتر سيد خليل الله « هاشميان» د ژبې د ټولنيز اعتبار په اکله

« پرستيژ اجتماعی در کشورهای دارای رژيم شاهی از دربار پادشاه تامين ميشود. پادشاه وقت که خودش عرقاً پشتون بود، اما تا روز مرگ خود يک کلمه پشتونگفت. محمد هاشم خان در مدت ۱۷ سال صدارت وقدرت مطلق العنانی خود يک کلمه پشتو نگفت. بلکه برای عرايض پشتو از ولايات پشتوزبان ، يک مديريت در صدارت تاسيس کرد بنام (افغانی نويس)، و درآنوقت ،حتی در پنجسال اول صدارت سردار شاه محمود خان، زبان پښتو را( افغانی ) ميخواندند، و نام مدير آن شعبه (عبدالله خان افغانی نويس) بود.

يگانه شخصيکه جرات کرد و دو سه بار به[ صدراعظم سردار] محمد هاشم خان پيشنهاد نمود تا بولايات پشتو زبان اجازه بدهد که مکاتيب رسمی خودرا بزبان پښتو بنويسند، مرحوم محّمد گل خان مومند بود. محمد هاشم خان گوش خودرا کر انداخت مومند را از مرکز بولايات فرستاد. اما باساس پيشنهاد او مديريت ( افغان نويسی ) را در صدارت تاسيس نمود. » داکتر هاشميان زياتوی چې: «در دوره صدارت محمد هاشم خان جوانان روشنفکر پښتون جرات رفتن نزد او يا مطرح ساختن موضوع پښتو را نداشتند.

اما در مقابل اختناق آنوقت حزب ( ويښ ځلميان ) در قندهار تاسيس شده بود و يکعده اعضای اين حزب از قبيل مرحومين رسول جان پښتون، عبد الحی حبيبی، عبدالروف بينوا، غلام حسن صافی و امثالهم اهسته اهسته سردار نعيم خان را که وزير معارف بود ملتفت ساختند که شما عرقاَ پښتون و متعلق بيک خانواده نامدار پښتون ميباشيد. بايد برای زبان پښتو که کاملاَ تحت تسلط زبان فارسی قرار گرفته، راه نجات تامين کنيد. همان بود که تهداب (پښتو ټولنه) در کابل گذاشته شد و متعاقباَ فرمانی بامضای اعلحضرت بزبان فارسي در جرايد نشر شد که تعميم کورسهای پښتو و تدريس زبان پښتو را در نصاب درسی معارف برای ولايات فارسی زبان تجويز مينمود....» د پښتنو دربار خيل قوميان دومره بې احساسه او بې تفاوته وو چې د پښتو لپاره

فرمان یي په پښتوژبه نه ، بلکې په فارسي ژبه صادر کړ! ډاکتر هاشمیان دې نتیجې ته رسیدلی دی: « لهذا اگر شخص پادشاه و پسران و عموزاده هایش پښتو میگفتند، یعنی با مردم به پښتو صحبت میکردند، پښتو زبان دربار ( وزبان ارگ ) قرار میگرفت. مردم برای صحبت با پادشاه واعضای خاندان او که در راس مقامات عالی دولت قرار داشتند، بلبل واری پښتو یاد میگرفتند.» ( ډاکتر سید خلیل الله هاشمیان،«زبانشناس نه ای دلبرا خطا اینجاست!»، سه شنبه ۸ می ۲۰۱۲). زه له ډاکتر هاشمیان نه مننه کوم چې خپل ټول ایمیل یي ماته راولیږه.

## د ژبپوهنې ډاکتر زمان « ستانیزی» په افغانانو باندې د شیعه مذهب او مشهدی فارسي تپل راسپړلي دی

خو د صفویانو په دوره کی پارسی ژبی او شعیه مذهب دواړو ملی او سیاسی صبغه پیدا کړه او د صفوی پارس د هویت یوه نه بیلیدونکی برخه و گرځیده. صفوی دولت خپل دغه دوه اړخیزه هویت د خپلی سلطی د دننه خلکو برسیره، بلکه له خپلو پولو نه بهر گاونډیو ولسونو باندی په زور قبولاوه. د مثال په توگه د شاه عباس په دوره کی یی د مرکزی افغانستان مغولی هزاره گان د نیزی په زور شعیه کړل، په مغولی ژبه خبری یی تحریم کړی، او فارسی ژبه یی د مغولی ژبی پر ځای په هغو باندی تحمیل کړه. نو ځکه چی اکثر واعظان او داعیان له مشهد نه غرجستان، غور او بامیانو ته راتلل، د افغانستان هزاره گان اوس په مشهدی لهجه خبری کوی او له ځینی محدود شمیر اصطلاحاتو نه پرته یی په ژبه کی هیڅ مغولی آثار پاته ندی.
د قندهار پښتانه افغانان یی هم شعیه مذهب ته او له پښتو ژبی نه پارسی ژبی ته په اړولو مجبورل. په پښتو ژبه خبری کول سیاسی جرم گڼل کیده. د قندهار ځینی خلک له ناچاری نه پارسي ژبي او شیعه مذهبه شول چی اوس هم د «پارسیبانو» په نامه یادیږی. هغه چا چی د خپل هویت نه په دفاع کی مقاومت کاوه تهدیدیدل او صفوی مأمورانو د هغو خلکو ژبی پری کولی چی د اعتراض په رسم یی په پښتو خبری کولی. د اختناق په دغه دوره کی خلکو د خپلی ژبی د ساتلو لپاره د پښتو کلماتو پر ځای د پارسی کلمات د پښتو په جملو کی استعمالول. د دغو فشارونو په نتیجه کی د قندهار د پښتو لهجه له پارسی او پښتو نه گډه لهجه وگرځیده. صفویانو په پښتو ژبه په نتیجه کی له پارسی سره تمسخر کاوه او دغه شعار یی تعمیم کاوه چی پارسی خوږه ژبه ده.
گډی شوی پښتو د خوږوالی «امتیاز» و گاته. نن ورځ هم هغه څوک چی د افغانستان له تاریخ سره ډیره آشنایی نلری، په غیرشعوری توگه وایی چی د قندهار پښتو خوږه ژبه ده. خو په دی پوهیدل په کار دی چی دغه خوږوالی له «قند»هار نه ندی اخیستل شوی، بلکه د هغی زمانی د ژبنیو تعصباتو د سیاسی چالچلند نتیجه ده.
د اختناق په دوره کی رسمی تعاملاتو ایجاب کاوه چی په تولنو کی، د اکثریت د خاطر د خیال له ساتلو نه پرته، لسو تنو پښتنو باید د یوه تن پارسی ویونکی په خاطر په پارسی خبری کړی وای. دغه سیاسی چالچلند وروسته هسی رواج ومومند چی تاثیرات یی لا تر اوسه هم په افغانستان کی په همدی توگه پاته دی. د ژبی د همدغو تفوق پالنو له مخی د هوتکو د حکومت له سقوط نه وروسته د پښتو ژبی د ادبی او علمی آثارو زیاته برخه د بست او قندهار په ښارونو کی د نادر افشار د لښکرو له خوا په اور کی و سوځول شول.
صفویانو په همدغه راز د دری پارسی له اصطلاح نه د دری کلمه وایستله څو د پارسی ژبی نسبت یوازی په پارس پوری منحصر و گڼل شی او پاته شوه.

زه زیرکیار باید دلته د ډاکټر ستانیزي د لیکنې په چینه او د چاپ په حقوقو رڼا واچوم. ډاکتر ستانیزي خپله اصلي لیکنه په فارسي کې په اینټرنیټ کې په دې سرلیک او مجله کې خپره کړې وه: «دری یا فارسی»[بررسی کتاب، دوبی ۱۳۹۰لمریز ]. د دغې لیکنې د پورتنۍ برخې پښتو ژباړه هم پخپله د ډاکتر ستانیزي مال دی. د دواړو اصل فارسي متن اوپښتو ژباړې د چاپ ټول حقوق د ډاکتر ستانیزي سره خوندي دی. زه ورنه مننه کوم چې ماته یې د خپلې پښتو ژباړې د خپرولو اجازه راکړې ده. زیرک یار
http://stanizai.com/دری–فارسی.php [4 August, 2012]
ټول فارسي متن په لاندې لیکه کې لوستلی شئ
[http://stanizai.com/پټولن---سیاست---تاریخ.php](http://stanizai.com/پټولن---سیاست---تاریخ.php)

## پښتون ذهن ته ورننوتلی دی‌اقتصاد پوه ډاکتر محّمد داود « میره کی» د

ډیر وخت کیږي چې پښتون له بدې مرغې د یوې غټې بدبختی او ناپوهۍ سره مخامخ دی. دغې بدبختی او ناپوهۍ په وروستیو دیرش کلونو کې ډیـر زور میندلی دی. وګورئ، د پښتنو شمیر په خپل هیواد کې تر نـورو تـولـو هیوادوالو غټ دی. خو نه ځان پیژني او نه پــه ځان پوهیـږي. پښتانه ولـې په دغسې کرغیړن حالت کې ښکیل شوي دي؟ د غې روغې پوښتنې ته یو کوټلی جواب د پښتنو په یو بل ژور مشکل کې غلی شوی دی.
دوی باید د نورو قومونو په شان د خپلې ژبې په پرمختګ، عزت او دفاع پسې وګرځي. وګورئ، پښتانه په خپل ورځني ژوند کې د خپلې ژبې دفاع نه کوي، که څه هم نـور اقلیتونه دخپلو ژبو په دفاع کې لګیادي.
چیرې چې پښتانه را غونډ شوي وي او یـو فارسي ژبی راشي، ټـول پښتــانه ځانـونـه مجبور ګڼي چې فــارسي ورسره ووایي. د دې معـنا داده چې پښتـانه لـه فارسي ژبـي هیوادوال نه د دې امید نه لـري چې د دوی سره دې په پښتو وغږیږي. کلـه چې یـو پښتون د کوم بل پـوه افغان سره مخامخ شــي، پـه فارسي ورسره ستړي مشي کوي، نه په پښتو. هـو، پښتانه د خپل دغه سلوک لپاره ډیرې بهانې لـټوي. دبیلګې پـه ډول یو داچې پښتانه میلمه دوست دي ، دوهـم داچې د صبر او زغم خاوندان دي، او دریم داچې غټ زړونــه لـري. خو د ځان د خوښولولپاره دغـه ډول بې خـونده جـوابـونه راتــوږل، د ځان تیرویستـل دي. په دې ډول پـښتانه له خپل قومي او ژبـنې هـویت نـه سترګې پټـوي، لــه خپلې ژبې نـه څـنډه کـوی او پاتـګ ورتـه اچـوي.
اوس پوښتنه داده چې پښتانه ولې په خپل لاس دخپل قوم او خپلې ژبـې پـه سپکاوي کې لګیادي؟ جواب یې دادی چې پښتانه له خپل انسانیت او بشریت نـه سترګې پټـوي. کله چې پښتانه په دې پوه شي چې د نورو قومونو په شان دوی هم انسانان دي، نو بیا به زده کړي چې دوی هم د بشر په څیر حقوق لـري. کله چې پښتانه په خپلو بشري حقوقو پوه شــي، بیا به د نورو اقلیتي هیوادوالو په څیـر د خپلو ټولو حقوقو دفاع کوي. دغه شان د خپل قوم دفاع به هم کوي چې خپله ژبه ولـري، ویـې ساتي، او غښتلې یې کـړي.
۲ جون ۲۰۱۲
ډاکتـر رحمت ربی « زیـرکیـا ر»

www.said-afghani.org – بازګشت به صفحه اصلی